## الدرس الأول
## حكم الصيام

## اولنئ درس
## دروژی حکم

**د روژےدنیولو حکم** : د اسلام په پنځو ارکانو کښې يو رکن د رمضان روژے نيول دی ، ددي وينا د رسول الله ﷺ دوجې نه : «بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ» متفق عليه.ترجمه : د اسلام پنځه بناګانئ دی ، د لااله الا الله محمد رسول الله ګواهی کول، دمانځه پابندی کول ، زکات ورکول، دبيت الله حج کول ، او د رمضان روژه نيول .

**روژه** : د الله تعالی درضا دپاره دصباء صادق نه تر د نمر پریوتو پوری د خوراک څښاک نه او د خپل اهل سره د هم بستری نه او د ټولو روژه ماتونکی څیزونونه الله تعالی ته دخپل ځان د نزدی کولو په نیت باندی ځان وساتلی شی ، دیته روژه وئیلی کیږی ، د ټول امت پدی خبره اتفاق دی، چی درمضان روژه نیول فرض دی ، د دی وجی نه چی الله پاک فرمائیلی دی : «فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ »{البقرة:١٨٥}ترجمه : څوک چی حاضر شی ستاسونه میاشت درمضان ته نو روژه دِې ونیسی. روژه نیول واجب دی په هر بالغ ، عاقل باندي ، د بلوغ علامه داده چی پنځلس کالو ته عمر ورسیږی ، یا دنامه نه لاندي ويخته راوټوکيږی ، او يا تری نطفه خارجه شی ، په احتلام وغيره سره ، د زنانه د بلوغ يوه علامه د حيض راتلل دی ، نو هر کله چی يو ددي علامونه موجوده شی ، نو دغه انسان بالغ دي.

**د رمضان د مياشتي فضيلت** :الله تعالی د رمضان مياشت لره بي شماره خصوصيتونه او خوبياني ورکړی دي ،چی بعض دهغي نه دادي :١-روژه دار دپاره ملائک بخنه غواړی تر څو چی ئی روژه نوی ماته کړی .٢-سرکشه شیطانان پکښې تړلی شی .٣-پدی کښې دلیلة القدر شپه ده چی د زرو(١٠٠٠) میاشتو دعبادت نه غوره ده ،٤-روژه دارو ته د رمضان په آخری شپه کښې بخنه کیږی .په هره شپه درمضان کښې الله تعالی خپل بندګان د اُور نه خلاصوی .په رمضان کښې عمره کول دحج برابره وی ،درمضان نور فضائل هم په احادیثو کښې ذکردی ، لکه په حدیث دابو هریره رضی الله عنه کښې راغلی دی: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم : «مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» متفق عليه.(څوک چی د رمضان روژي ونيسی دايمان سره او د ثواب په نيت ، دهغه مخکښني ټول ګناهونه به معاف شی) بل حديث کښې راغلی دی : عن ابي هريرة ، قَالَ-رَسُولُ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم: «كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ، الْحَسَنَةُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللَّهُ-عَزَّ وَجَلَّ إِلاَّ الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِى وَأَنَا أَجْزِى بِهِ » ، متفق عليه

ترجمه : د هر انسان نيک عمل الله تعالی دوچنده کوی دلس چندو نه تر اُووه سوو چندو پوری الله تعالی فرمائی : سيوا د روژی نه چی دا صرف زما دپاره ده ، او ددی بدله به زه ورکوم